شبکهٔ نهادهای جامعه مدنی افغانستان برای تحکیم روند انتخابات
د ټاکنو بهیر د ټینګښت لپاره د افغانستان د مدنی ټولنو شبکه
Afghanistan Civil Society Network for Elections

مطبوعاتي اعلاميه

دوشنبې 16 حمل 1395

د ټاکنیزو اصلاحاتو په بهیر کې د حکومت د ناغیړیو په اړوند د اکسین شبکې لید لوری

د ټاکنو بهیر د ټینګښت لپاره د افغانستان د مدني ټولنو شبکې (اکسین) چې د ټاکنیزو اصلاحاتو بهیر په جدیت سره څاري، د هغه جنجال څخه چې په غوراوي کمیټه کې د وروستیو تغییراتو له کبله د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون د وړاندې شوې طرحې پر خلاف رامنځته شوی، اندیښنه څرګندوي.

اکسین باوری دی چې د مدني ټولنو د استازیتوب کمول او په مقابل کې د دولتي نهادونو استازیتوب زیاتول چې د غوراوي کمیټې بې پلیتوب او اعتبار لپاره اړین ګڼل کیده، لمینځه تللی او د نوي کمیشنرانو ټاکلو لپاره د شایسته سالاری اصل پوښتنې سره مخامخ کړی. همدا رنګه د اساسي قانون د 152 مادي پر خلاف د غوراوي کمیټي د غړو په توګه د ملي شورا رییسانو او سترې محکمې رییس ټاکل هم د دغې کمیټې حقوقي اعتبار زیانمن کړی دی.

اوسني حالت دا اندیښنه زیاته کړې ګواګی دا چې حکومت هڅه کوي په ډموکراټیکو پروسو کې خپل حاکمیت لا پیاوړی، او مدني بنسټونه او عام وګړي له دغو ملي او ډموکراټیکو بهیرونو څخه څنډې ته کړي.

اکسین همدا شان اندیښنه لري، جدي او سم ټاکنیز اصلاحات چې په اوسني حالت کې پر حکومت او ډموکراټیکو پروسو باندې د خلکو او مدني ټولنو د باور د بیا رامنځته کولو لپاره یوازینۍ هیله مندي ده، په دې اړوند د حکومت او چارواکو ناغیړي کولای شي هېواد یو بل سیاسي کړکیچ خوا ته یوسې.

د اکسین شبکه له حکومته غواړي ترڅو ډیر ژر د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره بیا ځلې زمینه برابره کړي او د شایسته سالاری د اصل په رڼا کې د سیاسي ډلو د هر ډول لاسوهني پرته د نوي کمیشنرانو د ټاکلو څخه هر اړخیز ملاتړ وکړي.

دغه شبکه همدا رنګه د هېواد د ملي شورا استازو، مدني ټولنو، ازادو رسنیو او سیاسي کارپوهانو څخه غواړي ترڅو د رڼو ټاکنیزو اصلاحاتو څخه چې د هر ډول سیاسي معاملو څخه لرې وي، ملاتړ وکړي او د دغې بهیر په بریالیتوب کې خپل ملي مسؤلیت ترسره کړي.

په درنښت

د شبکې سکرټریت

د اړیکو شمېره: ۰۷۹۷۷۷۷۶۸۶

بریښنا لیک: secretariat@acsen.af.org و acsen.af@hotmail.com

TEFA | THRA | FEFA | FCCS | FLO | BEST | ACSFo | AWN | AWEC | WRIPS | ABRAR | LAPIS | NAI | EWA | ANCB | AFCAC | WADAN | AWNA | AAWU | ABHRS | ABNA | ACS | ACBO | TADEO | ADW | AHRDOAI
BA | ANPO | AOAD | AWC | AWEN | AWEVSO | AWHCA | AWOSD | AWRO | AWSE | AWTDO | AYCCA | AYNO | AYNSO | BAOPHR | BARAN | BCPCR | BSO | CCA | CCD | CORE | CSDC | CSDO | CSHRN | CSI
O | DANA | DSSTO | ECW | ERAO | HAEA | HAMCO | HARWO | HODA | HARRAC | HRSOA | IOA | KG | KOO | KYCSO | LAOA | LEOW | MAS | MASHKAT | MEHRO | NCSC | CTO | NHJA | ODD | ODSAO | OHR
DOHW | OSCAR | PACO | PIPMC | PMR | RC-DARF | RSSAO | SAEDA | SAWO | SCSDO | SMO | SO | SSSPO | SW | TEST | WRSO | YHDO | ARCSO | AWMESO | HRSOA | SDA | HCS
NSDO | OFRD | EDGOA | GHRSO | SCWO | GRSP | WCBDO | APDA | PATHO | PO | AIOR | WFCSO | TACT | LAO | ACSONP | WHMO | HF | GRTV | ASLO | DPA | OCSDA | CPD | HLO | CLP | ACTD | SCBO |
AMCCO | ORSTW | OHR | ALMC | OOACW | TLO | OCOA | SPD | AOWA | SEO | EWAO | ASEWO | WEGDO | HOAD | SAOA | AWHEO | AWHDO |
BFAWO | CRSDO | IRAA | NCSF | ADWRO | PANPAN | AYWCBO | SLDO | AREP | YDA | SCAWO | IDO